آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۹/۲۴

# د رڼا او تیارې لوبه



شا و خوا تپه تیاره وه
ستا خیال چې را میلمه شو
د زړه خونه مې رڼا شوه
پخوا یو سره عادت وم

او اوس دواړه را ته ناست دي
ناست لا څه، چې راته ملاست دي

یو او بل سره لوبیږي
لوبه پرېږده، لا جنګیږي

اوس حیران یمه ډاریږم
که ونه وایم شړیږم
که یې وایمه شرمیږم
تور او سپین نه زه کړیږم

دې تیاره او دې رڼا کې
دغه شور او دې غوغا کې

د رڼا او تیارې لوبه
دوی کې هسې نه شته سوبه
ټول یې بوتلل تر آشوبه
زه یې هم کړمه سرکوبه
که مې سترګې رانه واخلي
هی توبه مې له ړونتوبه

۲۰۱۴/۰۵/۱۰
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ